ليکوال: هاري

واشنګټن ۰۷/۰۲/۲۰۰۹

# ايا افغانستان د اوباما ويتنام دی؟

د نيوز ويک مجلې ويب پاڼي د افغانستان د وضعي په اړه د جان بېري او ايوان تامس په قلم مقاله خپره کړې ده چې د فبروري پر نهمه به چاپ او خپره سي. مقاله ډېره اوږده ده، خو هڅه سوې ده چې د امکان تر حده پوري را لنډه سي. ترجمه د کلماتو او عباراتو له پلوه ازاده خو مطالب او مفکورې ساتل سوی دی. د مقالې اساسي ټکی د افغانستان او ويتنام د جنګ پرتله ده.

قريب يوکال پخوا، يوه امريکايي پوځي مشر چې د افغانستان او عراق په اړه يې سپيني ماڼۍ ته مشورې ورکولې وويل: "موږ په افغانستان کي جنګ بايللی ندی خو ګټلی مو هم ندی. د هغه داځرګندونه د ويتنام د جنګ خاطرې را ژوندۍ کوي. د ويتنام له جګړې څخه ځو کاله را وروسته د يوه امريکايي او يوه ويتنامی افسر تر مينځ هغه مناظره را په يادوی چې امريکايی افسر ورته وويل: تاسو هيڅکله موږ د جنګ په ډګر کی مات نه کړو. ويتنامی افسر په جواب کی وويل: ستا خبره به ښايی رشتيا وی، خو د نهايی برى سره هيڅ تړاو نلري.

که څه هم د ويتنام يادول به زړه خبره وی، خو وخت نا وخت زړې تجربې بيا تکرارېږی. امريکايی مترقي او چپی ډلی د امريکا هر مداخله د ويتنام د باتلاق سره مقايسه کوی. دم ګړی داسی برېښي چې په افغانستان کي يو ځل بيا په امريکا باندي د ويتنام کانه کيږي. ځکه همدا اوس ځينی پېښی موازی حرکت سره کوی او سړی اندېښمنوي. جمهوررريس اوباما کلکه ژمنه کوی چې حتما به دا جنګ ګټي. مګر د افغان ولس لپاره چې موږ جنګېږو، واقعا يو ملت ندی، بلکی د ځو مختلفو او متخاصمو قومونو مجموعه ده. بده لا دا چې يو داسی ناکامه، بې کفايته، او شډله ډله حکومت باندي کوي چې د افغان ولس مطلق اکثريت يې نامشروع ګڼی. بلخوا، زموږ دښمن د غرونو، راغونو، او سوځنده بيدياوو سره پوره اشنايی لری. د مختلفو اشغالګرو قواوو سره د مقاومت پخوانۍ تجربې او کارنامې لری، او چي زور ور باندی راسی، سمدستی پاکستان ته اوړی او هلته کرار ټنده خوبونه کوی. بل پلو، ګاونډی ملکونه په يوګران او نه ختمېدونکي جنګ کی د متحده ايالاتو د راګېرېدو چانس وينی. لنډه داچی لدې جنګه په اسانه خلاصېدل نلرو.

واقعيت دا دی چې افغانستان او ويتنام ډېر توپيرونه سره لری. طالبان د ويټ کانګ په شانی غښتلی او يو موټی ندی. ويتناميانو د متحده ايالاتو ملی امنيت ته نېغ په نېغه تهديد نه وو مخامخ کړی. که څه هم د سپتمبر حملې طالبانو و نه کړې، خو ټروريستان هم هلته ورزل کېدل. په امريکا او غرب کي، افغانستان تل د ښه جنګ په نامه يادېږی.

که څه هم جنرال پيټرييس د ويتنام او افغانستان تر مېنځ مقايسه ردوی، خو د دواړو ملکونو تر مېنځ ډېر زيات ورته والی هم سته. لکه ويتنام، په افغانستان کی موږ د طالبانو پر خلاف هره نښته جلا جلا ګټو، خو ښايی جنګ په دونه کم وخت کی ونه ګټو لکه څنګه چې امريکايان يې غواړی. لکه ويتنام، افغانستان ته هم په زياتېدونکې توګه نوي او اضافه عسکر ور استوو. ويتنام قريب نېمه کره ها خوا پروت وو، او زياترو امريکايانو او غربيانو ته يو ليري او نا اشنا ځای وو. عامه امريکايانو افغانستان هم د مريخ غوندي ښکاري. حد اقل، ويتنام د فرانسويانو يوه نا کراره مستعمره وه ، مګر افغانانو تل د استعماګرو سره ډغري وهلي دي، او په ۱۹ پيړۍ کي يې انګريزيانو ته او په شمله پيړۍ کي يې روسانو ته د سر په کاسه کي اوبه ورکړې. په ويتنام کي، د ښاغلي ډيم حکومت ځکه نامشروع ګڼل کېده چي د يوې خوا خپله دی کاتوليک وو، او بلخوا، خلک اکثريت بوديسټ وه. بل دليل يې دا وو چي متحده ايالاتو نصب او ساتلی وو. په افغانستان کي، د ښاغلي کرزي حکومت هم امريکا خلق او ساتلی دی.

د ويتنام د مشر ښاغلي ډيم په شان، د کرزي په حکومت کي هم اداري فساد او بډي پرېمانه دي. حتی خپله کزرى هم اعتراف کوي. د ماليې پخوانی وزير، ښاغلی اشرف غني، د افغانستان حکومت د نړۍ تر ټولو فاسدو حکومتونو په جمله کي حسابوي، او خبرداری ورکوي چي افغانستان يوځل بيا د ناکامو او نارکو مافيا د دولتونو په شان کيږي. د افغانانو له هرو لسو کسانو څخه اوه تنه د ورځي په يوه ډالر ژوند کوي. هره افغانه کورنۍ د کاله ۱۰۰ ډالره رشوت ورکوي. په ويتنام کي يې رشوت او بډي د" کافي او چايو د د پيسو" په نامه يادول. افغانستان په خارجي مرستو او



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د مخدره موادو په عايدو چليږي. د بهرنيو مرستو په رسولو کي زيات رشوت او غلا موجوده ده. کليوالي سيمو ته هيڅ نه رسيږي، حال دا چي ۷۰ فيصده افغانان په کليو کي اوسيږي.

ننني افغانانو او پروني ويتناميانو ته حکومت يوه ظالمه قوه ده چي يوازي ببره ايجادوي. عادي ويتناميان عموما پدې ډاره کي ژوند کاوه چي د يوې شخصي بدی له کبله امريکايانو ته د دښمن جنگيالي او يا د هغوی د سمپتاېزر په نامه په لاس ورنه کړه سي. ننني افغانان همدا ډار لري. کله چي د متحده ايالاتو قواوو د طالبانو رژيم فقط په څو ورځو کي ختم کړ، افغانان هيلمن وه چي شتمن امريکايان به يې سړکان، کوڅې، ښاروونه، مکتوبه او اقتصاد ور جوړ کړي. مگر اوس په افغانانو کي قهر او غوسه پيدا سوېده. په کابل کي د روسيې سيفر، ښاغلي کابلوف، پوښته مطرح کوي او وايي: " افغانانو ته ايتلافي قواووڅه ورکړه؟ هغوی پخوا هم ډېر نېستمن وه، او اوس هم ډېر فقير او غريب دي. مگر اوس وخت نا وخت_ البته په خطا کي_ بمونه هم باندي اوري."

په افغانستان کي د ملت او دولت جوړول يو گران او جنجالي کار دی. د افغانستان په تاريخ کي د سولي او ثبات وختونه او پېرونه ډېر کم دي.

خو اکثره ډپلوماټان، ژورناليسټان، او مصبرين باور لري چي وضع ورځ په ورځ خرابېږی. د متحده ايالاتو د دفاع وزير رابرټ گېټس عقيده لري چی په افغانستان کی د امريکايی عسکرو زياتېدل به ضرور ځيني افغانان لا په غوسه کړی. هغه د کانگرس يوې غونډی ته وويل: "زما اندېښنه دا ده چی افغانان په زياتېدونکې توگه موږ ددغه روان مشکل يو جز گڼی،نه حل."

د ښورښ او بغاوت د ضد تيوري يو اساسی اصل د يوې سيمي د پاکولو، ساتلو، او ابادولو امر کوي. مانا دا چي لمړی بايد يوه سيمه ونيول سی؛ بيا وساتل سی او پرې نه ښودل سی چی ياغيان هلته د تېک ځای پيدا کي؛ او وروسته د حکومت او اقتصاد بياودانول پيل سی. په افغانستان کي، بهرنی عسکر هر سيمه نيولای سی، خو دايمي يې ساتلای نه سي. بده دا چی طالبان د پاکولو، ساتلو، او ابادولو په کارونو کی ډېر ماهره سوی دی. د طالبانو سخت عدالت د زياترو افغانانو خوښېږی، ځکه افغانان د امنيت تږی دی. په ځينو ځايونو کی طالبانو خپل پخوانی سخت دريځ څه نرم کړی دی، او نجونی مکتب ته پرېږدی. هغوی د افغانستان ۷۲ فيصده خاوره کنټرولوی. کابل ته له څلور و لويو لارو څخه درې لاري د طالبانو تر څارنی لاندی دی.

بلخوا، طالبان داسی اقتصادی زيرمی لری چی وتيکانگ هيڅکله هم نه درلودې. طالبان د مخدره موادو په ناروا تجارت گوزاره کوی. افغانستان د نړۍ ۹۳ فيصده ترياک توليدوی. بزگران مجبوره دی چی کوکنار وکری. د افغانستان لاری او سړکان خراب او ويجاړ پراته دی. بزگران خپل توليدات پر وخت مارکېټ نه سی رسولای.

دغه راز، په افغانستان کی د امريکايی خاصو قواوو څخه هم ښه استفاده نه کېږي. هغوی يا په القاعده پسې گرځی او يا د افغانستان او پاکستان بې سر و پايه پولی څاری. بلخوا، د افغانستان د امنيتی قواوو روزنه او انکشاف نهايت بې نظمه دی. متحده ايالات او ناټو دواړه د افغانستان د پوځ په روزنه کی تر شا راغلی دی. همدا وجه ده چی اردو او پوليس سخت کمزوری دي، او د طالبانو او القاعدې سره د مقابلې توان او زړه نلری.

په ويتنام کی د سرحدونو د ساتلو او څارلو چاری ناکامی وې. طالبان هم د ويتکانگ غوندی د پولو پر ها غاړه د سېب او ارام ځايونه لری. طالبان د پاکستان په قبايلی سيمو کی تمويل او روزل کېږی. طالبان پوهېږي چی د ټپی کېدو وروسته به سمدستی پاکستان ته و رسول سی. ځينو طالبانو ته د ټيلفون نمرې ور کړه سوی دی چی د ټپی کېدو وروسته زنگ ور ووهی او د درملنی لپاره پاکستان ور سول سی.

امريکايان بايدد طالبانو د تعقيب په ارتباط ډېر احتياط وکی. په ويتنام کی امريکايی ستراتيژيستان د روسانو او چينايانو له بابته اندېښمن وه. هغوی نه غوښتل چی روس او چين په جنگ کی راښکېل سی. د پاکستان په اړه د امريکايانو اندېښنه دا ده چی يو ملگری هېواد نور پسی بې ثبات نه کړی. که څه هم پاکستان د القاعدې ځينی غړی امريکايانو ته په لاس ورکړی دی او هم يې د ځايی طالبانو پر خلاف وخت نا وخت عمليات کړی دی، خو اې ايس اې له طالبانو سره


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

پټی مرستی کوی. پاکستان غواړی چی افغانستان کمزوری او تر لاس لاندی وساتی. پاکستان پوهېږی چی نن یا سبا به امریکایان لدې سیمی څخه وځی، نو بنا پاکستانیان غواړی په راتلونکې کی یو ځل بیا خپل تور او لغوړن طالب ګوډاګیان په افغانستان کی د قدرت پر ګدۍ ناست ووینی.

په ویتنام کی، امریکا د روسانو او چینایانو د دوه مخی پالیسۍ په ارتباط ډېره اندېښنه درلوده. اوس، یوازی پاکستان دوه مخې پالیسی نلری، بلکی ایران هم منافقت کوی. ایران د شمال له ایتلاف سره نژدې او پخوانۍ اړیکی لری. ایران د امریکا پزه په افغانستان کی په وینو لړلې غواړی. داسی ښکاری چی په افغانستان کی امریکا خپلی پلې پخپله پرې کوی. په افغانستان کی د امریکایی عسکرو شمېر ډېر کم دی، نو بنا امریکا همدا کمزوری په بمباریو جبرانوی. په کال ۲۰۰۴ کی، د امریکا هوایی قوې ۸۷ بمبارۍ کړی وې، خو ۲۰۰۷ کی د بمباریو شمېر ۲۹۲۶ ته ورسېد. همدې انکشاف د ملکی خلکو مرګ ژوبله ډېره کړې ده. طالبان د ویتکانګ غوندی ملکی خلک د ډال غوندې کاروی. د ملګرو ملتونو احصاییه وایی چی په کال ۲۰۰۶ کی ۹۲۹ ملکی کسان وژل سوی وه، خو ۲۰۰۸ کی څه د پاسه ۲۰۰۰ وژل سوی دی. امریکایی نظامی مبصر، ټامس جانسن، وایی: "کله چی موږ بې ګناه خلک ووژنو، په تېره بیا ماشومان او ښځی، هغه کلی د ابد لپاره زموږ دښمن سی. په پښتنی سیمو کی، غچ یو پور او وظیفه ګڼل کېږي. یو امریکایی عسکر وایی: د یوه پښتون وژل درې نور دایمی دښمنان زېږوی."

جنرال پیتریيس له همدې بدو شرایطو سره لاس او ګریوان دی. هغه غواړی چی د افغانستان د ستونزو په اړه جمهورریس ته ورو ورو معلومات ورکی. جنرال پیتریيس غواړی چی په افغانستان کی د قومندې واحد مرکز تشکیل کړی، ځکه په ویتنام کی هم د قومندې تشتت او بې نظمي تباهي پېښه کړه. په افغانستان کی ځینی عسکر د ناټو تر قومندې لاندی دی او ځینی د امریکا. جنرال پیتریيس به د ښاغلی ریچارډ هولبروک سره په ګډه کار کوی. د ښاغلی هولبروک مسولیت د بهرنیو مرستو منظمول، د سیاستوالو او جنرالانو تر مینځ توافق او همږغی ایجاول، او د عمومي همکارۍ لپاره فشار اچول دي. که څه هم ښاغلی هولبروک یو غښتلی او عالی شخصیت لری، خو ښایی د ویتنام په جنګ کی د خپل سیال غوندی هوښیار او لایق خو څه ناوخته وی.

جنرال پیتریيس ویلی دی چی متحده ایالات نسی کولای چی د وژلو په زور کامیابی تر لاسه کړی. بهرنی عسکر یو بومي بغاوت او ښورښ نسی ماتولای، یوازی ځایی عسکر چی د خلکو ملاتړ ور سره وی دا کار کولای سی. جنرال پیتریيس غواړی چی د محلی خلکو په مرسته طالبان سټ کړی. همدا پالیسی په افغانستان کی شورویانو هم عملی کړه، خو مختوری او ناکامه سول. په افغانستان کی، محلی جنګسالاران سمدستی د یو بل پرخلاف ډزی پیلوی. افغانان وایی: جنګسالاران کرایه کېدای سی، خو بلکل رانیول کېدای نه سی. بلخوا، څوک غواړی چی یو طالب ووژنی، او بیا په نتیجه کی بدی ورته پاتی سی؟

عامه امریکایان هم په افغانستان کی د برې په اړه شکمن دي. د نیوز ویک د عامه افکارو یوه وروستۍ سروې ښیی چی ۷۱ فیصده امریکایان باور لری چی ښاغلی اوباما به اقتصاد بېرته پر پښو ودروی، خو ۴۸ فیصده فکر کوی چی په افغانستان کی په مثبت بدلون راولی. د ۶۰۰۰۰ عسکرو کلنی لګښت به ۷۰ بیلونه ډالر ه وی. د افغانستان د اردو ساتل او روزل به په یوه لسیزه کی ۲۰ بیلونه ډالره وغواړی. پیتریيس بیابیا ویلی دی چی په افغانستان کی د مذهبی افراطیانو پر خلاف جګړه به ډېره اوږده وی. مګر دا څرګنده نده چی امریکایان به دونه حوصله وکړي او کنه. یوازی ۱۰ فیصده امریکایان افغانستان مهم ګڼی. که چیری په افغانستان کی پرمختګ ونه سی، د کال ۲۰۱۰ په انتخاباتو کی به کاندیدان د اوباما د جنګ سره څرګند مخالفت اعلان کړی.

اوس پوښتنه دا ده چي ولی باید له افغانستان څخه را و نه ځو؟ ددې خبری عملی کول ډېر ګران دی. ځکه که چیری له افغانستان څخه امریکایی عسکر را ووځی، سمدستی د افغان پوځ ویلی کېږي. یو ځل بیا به کورنی جنګونو پیل سی. فعلا، پښتانه د حامد کرزي حکومت ته چی تاجیکان پکې څرګند حاکمیت لری، د دښمن په سترګه ور ته ګوری. پدې ناروین کی به هغه ډله کامیابه سی چی د پاکستان ملاتړ ولری، او طالبان له پخوا څخه د پاکستانی جنرالانو پاخه ګوډاګیان دی.

ځینی باور لری چی د طالبانو بیا راتګ دونه بده خبره نده. یوازی باید طالبان دېته تشویق سی چی القاعدې ته د سېب ځای ور نه کړی. یو پخوانی عالي رتبه طالب چارواکی چی نه غواړی نوم یې ذکر سی، وایی: پاکستاني جنرالان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

طالبان د همدې کار کولو ته تشویقوي، څو د امریکایانو سره ژر تر ژره خبری پیل سی. مګر ښایی اسلام اباد د اور سره لوبی کوی. ځکه د یو مذهبی دولت تقویه کول به د پاکستان لپاره هم خطرناکه وی.

ځینی ستونزی یا خو هډو هیڅ حل نلری ، او یا ښه او مناسب حل نلری. په امریکا کی د افغانستان په متعلق دوې وروستۍ څېړنې وایی: امریکا نسی کولای چی یو ځل بیا افغانستان له لاسه ورکړی . څوک غواړی چی د امریکاهغه جمهورریس و اوسی چی افغانستان یې جهادیستانو ته پرې ایښی وي، او د مذهبي افراطیانو لپاره یې د لاپو شاپو ښه فرصت برابر کړی وي؟ د ویتنام د جنګ په دوران کی ویل کېدل: د ویتنام څخه د راوتلو لپاره هر کال بد او نامناسب کال وو. همدا خبره په ننني افغانستان کی هم صدق کوی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de